# د ملک شېر علي خان خدائي خدمتګاري

# Khudai Khidmatgari Of Malik Sher Ali Khan

Muhammad Riaz Khan*
Dr. Faqir Muhammad Faqir*

**Abstract:**

Khudai khidmatgar was an active movement of pakhtoons for freedom that played a pivotal role in freedom movement.For the development of every nation education,descipline,unity and brother hood are needed.Bacha Khan took upon him the responsibility of all these.khudai khidmatgar wanted to serve pakhtoons and would render help to the poor.Due to the collective thought and efforts of these people the pakhtoons could see the light of freedom.Malik Sher Ali Khan was impressed with the thought of the non-violence of this movement and became its active member.Malik Sher Ali Khan was gifted with many qualities needed for successful ilfe.in his poetry it is quite evident that he had great feelings for the pakhtoons and through the platform of khudai gar he increased his beauty of thought many fold for the amelioration of pakhtoons.

**Key Words:** Literary Contributions, Khudai Khidmatgari, National Poetry, Educational Contribution and Reformative Struggles.

خدائي خدمتګار په حقيقت کښې د پښتون قام د ازادۍ يو فعال تنظيم وۀ چې د ازادۍ په تحريک کښې ئې د اول درجې کردار ادا کړې وۀ. د خدائي خدمتګارو غړيو به په خلقو کښې سياسي او اصلاحي پوهه رابېدارولو دپاره خپلې هڅې کولې. دوي به په سرو جامو کښې کلي په کلي ګرځېدل او په اولس کښې به ئې د پښتنو د ازادۍ جذبه رابېداروله. دا خدائي خدمتګار چې به کله يو کلي ته نزدې شو نو ډهول وهل به ئې شروع کړل او د دغه خلق به دوي له د کلي نه رابهر شو. بيا به دوي ډهول وهل بند کړۀ او د کلي دغه راغونډ

* PhD Scholar, Bacha Khan Study Centre, Bahcha University Charsada
** Lecturer Bacha Khan Study Centre , Bacha Khan University, Charsada

شوي اولس ته به ئې د قوم د ازادۍ په حقله د عدم تشدد په فلسفه عمل کولو دپاره یو مختصر تقریر وکړو.

باچا خان به خپلو تقریرونو کښې پښتنو ورونو ته وئيل چې مونږ ستاسو پښتانهٔ ورونه یو، ستاسو خدمتګار یو او شپه ورځ ستاسو خدمت ته حاضر یو. تاسو هم مونږ سره ملګري شئ چې دا خپل وران کور بیا یو ځل اباد کړو. تاسو خو د دنیا نورو قامونو ته لږ سوچ وکړئ چې دغه نور قومونه سپوږمۍ ته وختل او مونږ لا هغه شان بغېر د څهٔ ایجاداتو په دې زمکه ژوند تېرو. حال دا دے چې هغوي خو هم زمونږ په شان دغه دوه لاسه دوه خپې انسانان دي. مونږ د دغه قامونو خېرات خوارهٔ یو چې د چا نه غله غواړو،

* Ph.D Scholar, Pakhtunkhwa Study Center Bacha Khan University, Charsadda
** Lecturer, Pakhtunkhwa Study Center Bacha Khan University, Charsadda

د چا نه روپۍ غواړو او حالانکې مونږ له الله تعالیٰ د جنت غوندې ښائسته وطن راکړې دے چې د هر قسمه نعمتونو نه ډک دے. زمونږ دا څهٔ حال شو چې ترقۍ، خوکالۍ او خوشحالۍ کښې د نړۍ د نورو قامونو نه وروستو پاتې شو. دغه قامونو کښې خلوص، همدردي، ورورولي او اتفاق دے او مونږ کښې نفاق، کینه، حسد او بغض دے. د دې وجې پښتنو ورونو که چرې تاسو هم د یو متفق او مضبوط قوم جوړېدو هڅه وکړئ نو په دې کښې هېڅ شک نشته چې تاسو به هم د دې نړۍ یو مثالي قوم شئ.

خدائي خدمتګار تنظیم د فوج په طرز جوړ شوے یو فعال تنظیم وهٔ. دې تنظیم کښې به د هر شلو یا دېرشو کسانو په سر به مشر یو کپتان وهٔ او په دې شلو یا دېرشو کسانو کښې به دوه لفټننان هم وو او دغه دوه لفټننانو به د یو مېجر لاندې کار کولو. دغسې هر لوئے کلي کښې به دوه مېجران مقرر وو او دوه یا درې کلو دپاره به یو کرنل مقرر وهٔ. هره ضلع کښې به شپږ جرنېلان مقرر وو. د جرنېل دپاسه د ټولو خدائي خدمتګارو مشر به سالار اعظم یا کمانډر ان چیف وهٔ او دهٔ به په اس سور لې کوله.

" تاسو خو ودهٔ یې او سړي څهٔ کوي چې د هندوانو ښځې هم رابېدارې شوې او هغوي سرو سره یوځائے د ملک د ازادۍ دپاره ملا تړلې ده او جدوجهد کوي تاسو خو لږ نمر خاتهٔ ته وګورئ ځومره لوئے سېلاب راروان دے او سېلابونه همېشه وودهٔ قومونه وړي، پاځئ ،ویښ شئ او ملاوتړئ، تاسو خو وګورئ، پېرنګیان وائي چې هندوستان مونږ په توره فتح کړے دے۔ دا زمونږ دے او مونږ پرې حکومت کوو او ګټه وټه ئې زمونږ ده هندوان پېرنګي ته وائي چې تاسو مونږ په زور نیولي یو اوس چې مونږ پوه شو او متفق شو نو خپل وطن درنه اخلودا زمونږ وطن دے اوس به پرې مونږ حکومت کوو۔ تاسو د دې نه خبر یئ کهٔ نه؟ "[1]

دا د یو ډېر عظیم انسان خان عبدالغفارخان هغه د غېرت نه ډک الفاظ وو چې سرفراز خان، محمد اکبرخان او د حجاب ګل په ذهنونو ئې داسې زبردست اثر اوکړو چې هم دوي بیا د باچا خان د خدائي خدمتګار تحریک بنیادي غړي جوړ شو ۔ دې تحریک په راتلونکي وخت کښې په ښځو، نرو، وړو او زړو باندې ډېر ښهٔ اثرات ښکاره کړهٔ ۔ خدائي خدمتګار تحریک د چارسدې، نوښار، پېښور او مردان نه واخله تر سوات، هزاره او ډېره اسماعیل خان پورې ډېر زور سره خور شو ۔

"خدائي خدمتګار تحریک د انساني خوا خوږۍ په بنیاد د قام د اصلاح او لاربښونې ښکاره ثبوتونه دي ۔ باچا خان د قرآن او اسلام د تعلیماتو په رڼا کښې د غلطو پلتو رسمونو او رواجونو ختمولو هاندې هڅې کولې ۔ د خلقو په ذهن کښې ئې بدلون راوستو د حق پېژندګلو او حق اخستلو پوهه او احساس ئې ورکولو ۔ دې مقصد او مرام ته د رسېدو دپاره باچا خان د الله تعالیٰ د پېغمبرانو ښودلې لاره خوښه کړې وه ۔ کومه چې د ازغو ډکه ده ۔ خپلو وېنا ګانو کښې به ئې په خصوصي توګه د حضرت نوح علیه السلام،

حضرت عیسیٰ علیه السلام او د پاک رسول خاتم الانبیا، حضرت محمد صلی الله علیه وآله وسلم او بیا د هغهٔ د اصحابو مثالونه ورکول".[2]

د تشدد او عدم تشدد فرق باچا خان په ساده پښتو ژبه کښې ذکر کړي وو. پښتانهٔ اوس اکثر په خپلو کښې یو بل سره جنګ جګړو او دشمنو تربګنو کښې اخته دي. د دوي دا د جهالت کارونه راتلونکي نسلونه د دشمنو په نهٔ ختمېدونکي زنځیر کښې راګېر کړي چې د انجام ئې هډو څهٔ سر معلوم نهٔ وي. دغسې د دې دشمنو او تربګنو په وجه دوي اقتصادي حالت سره د نورو قامونو نه د ترقۍ په سفر کښې وروستو پاتې دي. د باچا خان د خدائې خدمتګار تنظیم مقصد هم دا وهٔ چې پښتانهٔ د تشدد د لارې په ځائے د عدم تشدد لاره اختیار کړي. د دې وجې د خدائي خدمتګارو تربیت به ډېر په ښکلي او شاندار انداز کښې کېدو چې دوي د یو ازاد او خود مختار قوم په حېث پښتانهٔ رابېدار کړي.

" پښتون قام چې د نړۍ په کومه جغرافیه کښې اباد دے دغه خطه د همېشه راسې د دوؤ طاقتونو تر مېنځه پاتې شوې ده. په دغه وجه طاقتور قامونو په پښتون قام کښې د خپل اثر پیدا کولو دپاره همېشه لاس وهنې کړي دي او د پښتون قام د محکوم کولو دپاره ئې هره لار لټولې ده. ولې په بل اړخ پښتون قام د خپلې ازادۍ او خپلواکۍ دپاره همېشه جنګونه کړي دي. او د خپلو سرونو په بدل ئې خپله ازادي او خپلواکي ساتلې ده. د دې قام خاورې ته چې هر غاصب او استعمار راغلے دے دوي ئې ارادې خاورې کړي دي او د دې خاورې نه بېنوا، مجبور، شرمنده، او ټیټ سترګے تښتېدلے دے".[3]

خدائي خدمتګار یو داسې فعال لښکر وهٔ چې څرګنده وسله ورسره نهٔ وه خو بیا هم دوي سره یوه پټه وسله وه او د هغې نوم عدم تشدد وهٔ. دا دوي هغه وسله وه چې د دې استعمال عیسیٰ علیه السلام هم کړې وهٔ او بیا مارټن لوتهر هم وکړو. د عدم تشدد دې نظریې له باچا خان په ۱۹۱۰ء کښې د پښتون قام د کلتور او د پېرنګیانو د طاقت د جاج

اخستو نه وروستو يو نوې رنګ ورکړو او بيا ئې په پښتنو کښې رواجي کړو. د باچا خان د عدم تشدد دغې فلسفې د ګاندهي جي د نظريې صرف يوې نقطه يعني "د پېرنګيانو نه د هندوستان ازادي" باندې اتحاد وکړې. د څۀ خلقو دا خيال وۀ چې باچا خان د مهاتما ګاندهي د فلسفې نه متاثره وۀ نو ځکه ئې د عدم تشدد خبرې کولې خو دا خبره غلطه وه بلکې باچا خان هغه وخت د عدم تشدد خبره کړې وه کوم وخت چې هندوستان ته ګاندهي جي راغلے هم نۀ وۀ. هندوستان ته ګاندهي جي په ۱۹۱۴ء کښې راغلے وۀ او باچا خان د عدم تشدد د فلسفې په کال ۱۹۱۰ء کښې د يو سکول په حيث بنياد کېښودو.

"وَعَنْ سُرَاقَةَ بْنِ مَالِكِ بْنِ جُعْشُمٍ قَالَ خَطَبَنَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ خَيْرُكُمُ الْمَدَافِعُ عَنْ عَشِيْرَتِهِ مَا لَمْ يَأْثَمْ"- 4

ترجمه : له سراقه بن مالک بن جعشم نه روايت دے وئيلي چې رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم مونږ ته وعظ وکړو. وې فرمائل په تاسو کښې بهتر هغه څوک دے چې د ظلم نه د خپل قوم دفاع کوي ترڅو چې ګنهګار نۀ شي.

باچا خان يو ډېر عظيم شخصيت وۀ چې د پښتون قوم د ازادۍ او پرمختګ دپاره ئې شپه ورځ ته کتلي نۀ دي خو د خپل ځان او مال قرباني ئې ورکړې ده. د ژوند زياته برخه ئې د قوم د روښانه مستقبل حاصلولو دپاره جېل کښې تېره شوه. دوي داسې تاريخ پرېښودو چې د هر پښتون بچې بچې به د دوي دغه عظيمې قربانۍ ته سلام کوي. د هر قوم د کاميابۍ دپاره د اتفاق اتحاد او ورورولۍ ضرورت وي او دا ټوله ذمه واري باچا خان په خپل سر اخستې وه. د دوي دا اجتماعي سوچ او فکر وۀ چې په نتيجه کښې ئې پښتنو د ازادۍ هغه سحر وليدو او دا دوي د خدائي خدمتګار تنظيم د عدم تشدد هغه عظيمه فلسفه وه چې ملک شبر علي خان ترې هم متاثره شو او د "خدائي خدمتګار" تنظيم په اهمو کارکنانو کښې شمېرلے شو.

"ملک بابا ډېر زيات نرم طبيعت، مستقل مزاجه او سنجيده بنيادم وۀ. دې سره سره ملک بابا د کلي يو دروند پښتون او خوږ ژبانه مشر هم وۀ. ملک بابا د خدائي خدمتګار تحريک يو مضبوط او مخلص غړې وۀ. هغه د باچا خان په شان د عدم تشدد د فلسفې منونکې وۀء". [5]

د ملک شېر علي د قوم نور غړي لکه بخت ملوک، سېف الملوک، تاجو خان، ګل ملوک او دِل ملوک دا ټول ورونه چې د ابتداء نه په "خدائي خدمتګار " تنظيم کښې شامل وو. په دوي ټولو کښې سېف الملوک د نوښار تحصيل د سرخ پوشو صدر هم وۀ. په دوي د ملک شېر علي خان مېرنه ترور (دمورخور) وادۀ وه خوځۀ موده وروستو هغه مړه شوه او بيا ورته د ملک شېر علي خان مېرنه خور وادۀ شوه. د هغې د يو زوي صلاح الدين د وينا مطابق سېف الملوک په کلي کښې ګڼ شمېر خلق راغونډ کړۀ او پېښور ته ئې په دې خيال بوتلۀ چې هلته شراب خانې بندې کړي. د نورو کلو نه هم ګڼ شمېر خدائي خدمتګار راغلي وو او دوي ټولو په اتفاق سره دغه شراب خانو باندې حمله وکړه. دا ټول خدائي خدمتګار په عامو جامو کښې وو چې لاندې ئې ترې سرې جامې غوښتې وے. دا خدائي خدمتګار قصه خوانۍ کښې ځائے په ځائے ولاړ وو.

"دې تحريک د انګرېز نه ازادي غوښتله، سيمه په سيمه، تپه په تپه او کلي په کلي به ئې د باچا خان په مشرۍ کښې جلسې کولې، پښتانۀ ئې راويښول، چې په نتيجه کښې ئې باچاخان ځوځو ځله ګرفتار کړے شو او جېل ته به اولېږلے شو، داسې دا تحريک سماجي، اصلاحي تحريک سره سره سياسي او د هندوستان د ازادۍ غوښتونکيو سياسي تحريکونو سره ملګرے شو، اخر د هند لوې سياسي ګوند سره يو ځائے شو". [6]

سېف الملوک خان خدائي خدمتګارو ته دا هدايات ورکړي وو چې کله زۀ قصه خوانۍ بازار کښې د دکانونو مخې ته تاسو ته په خپل ځادر اشاره درکړم نو تاسو ټول

کارکنان به په شراب خانو سمدستي حمله کوئ. دغه شان سيف الملوک خان په ښادر دغه خلقو ته اشاره وکړه او ټولو خدائي خدمتګارو خپلې پاسنۍ جامې وېستې او د قصه خوانۍ بازار د سرو جامو خلقو (خدائي خدمتګارو) نه ډک شو. انګرېزانو په دوي ډزې کولې چې په کښې يو بولټن نومې (ډي. سي) انګرېز هم ولګېدو او په هغه ځائے مړ شو. هغه راسې ليډي ريډنګ هسپتال کښې بولټن بلاک هم د هغوي په نامه جوړ دے. دغه پېښه کښې وروستو بيا نور ګڼ شمېر خدائي خدمتګار هم شهيدان شو. د دغه خدائي خدمتګارو شهيدانو د قربانۍ په نتيجه کښې دوي يو قبر له سور رنګ ورکړو نو مسلم ليګو پکښې هم يو قبر له په دې غرض شين رنګ ورکړو چې په دې واقعه کښې د مسلم ليګ کسان هم شهيدان شوي دي خو حقيقت چرې نۀ پټېږي او دا ټول شهيدان صرف خدائي خدمتګار وو. د دوي يو لوې او عظيم مقصد د خپل وطن ازادي وه چې په پښتون قام کښې د يو والي، مينه محبت او د انسانيت د خدمت ښۀ جذبه رابېداره شي.

"عَنْ عُبَادَةَ بْنِ كَثِيْرِنِ الشَّامِيّ مِنْ اَهْلِ فَلَسْطِيْنَ عَنِ أمْرَاَة مِّنْهُمْ يُقَالُ لَهَا فَسِيْلَةُ اِنَّهَا قَالَتْ سَمِعْتُ اَبِىْ يَقُوْلُ سَاَلْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ اَمِنَ الْعَصَبِيَّةِ اَنْ يُّحِبَّ الرَّجُلُ قَوْمَهٗ قَالَ لَا وَلٰكِنْ مِّنَ الْعَصَبِيَّةِ اَنْ يَّنْصُرَالرَّجُلُ قَوْمَهٗ عَلَى الظُّلْمِ." [7]

ترجمه :- عباده بن شامی چې له اهل فلسطين نه وۀ چې د خپلې قبيلې د يوې ښځې نه ئې نقل کولو د هغې نوم فسيله وۀ هغې وئيلي دي چې ما د خپل پلار نه اوريدلي دي هغۀ به وئيل چې ما د رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم څخه پوښتنه وکړه چې اے د الله رسوله (صلی الله عليه وآله وسلم) چې دا هم عصبيت دے چې سړے دې خپل قوم سره مينه کوي وې فرمائيل چې نابلکې عصبيت دا دے چې سړے کومک کوي له خپل قوم سره په ظلم کښې.

ملک شبېر علي خان چې د خدائي خدمتګار تنظيم يو کلک ملګرے وۀ ځکه چې دا يو ډېر کامياب او مضبوط تنظيم وۀ. دوي د قام او د وطن د خوشحالۍ او څوکالۍ ډېر

لوې مقصدونه لرل ـ خدائي خدمتګارو د پښتنو ښځ تعلیم کول غوښتل او غریبانو سره به ئې تر ډېره حده هر قسم لاس امداد کولو ـ دغه وجه وه چې انګرېزانو به د دې خبرې نه ډېره وېره کوله چې که چرې دا پښتانۀ ټول یو موټې شي نو په دې وطن به بیا زمونږه حکمراني باقي پاتې نۀ شي ـ باچا خان هم دا پښتون قام د ازادۍ دا جذبه لرله چې خپل قوم د غلامۍ د لعنت نه ازاد کړي او د پرمختګ لاره ورته روښانه شي ـ

"مونږ چې د سیاسي ډلوطرف ته کومه اشاره کړې وه په هغوکښې د خدائي خدمتګارو ډله هم یو نۀ هېرېدونکے حقیقت دے ـ د دغې ډلې لوئې مقصد د خپلې خاورې نه د پېرنګي شړل وو ـ که څۀ هم ابتداء کښې دغه تحریک یو غېر سیاسي تحریک وۀ او د مذهب او پښتو په بنیاد ورته هغه خلق راغونډ شوي وو چې د خپلې خاورې د حفاظت دپاره یې سرونه په تلو کښې ایښي وو." [8]

ملک شېر علي خان د خدائي خدمتګار په حېث د پښتنو د ازادۍ دپاره خپلې د اخلاص هلې ځلې کړي دي ـ د خپل پښتون قوم دپاره ئې هر قسمه سختۍ، تکلیفونه او جېلونه برداشت کړي دي ـ د دوي د اخلاص نه ډکه جذبه وه چې خدائي خدمتګار به ورځ په ورځ زیاتېدل او دوي د پښتون قام د ازادۍ دا هڅې مسلسل جاري ساتلے ـ ملک شېر علي خان د خدائي خدمتګار په حېث د اولس سره ډېره لویه همدردي ساتله ـ په خپل پښتون قام مئین وۀ او د دوي د راتلونکي نسل د مستقبل ورسره ډېر زیات فکر وۀ ـ په دې وجه ئې د پښتون قام د ګلالو بچو دپاره ازاد سکولونه جوړې کړي وو چې په هغې کښې به دغه خدائي خدمتګارو کارکنانو بغېر د څۀ معاوضې مفت تعلیم ورکولو ـ

"میں نے یہ بات ہر ایک خدائی خدمتگار سے بار بار کہی ہے، اب ان کی ہدایت کیلئے پھر لکھ رہا ہوں کہ ہماری خدائی خدمتگاری صبر اور بھائی چارہ سے بنی ہے یہ تحریک اس لئے بنی تھی اور جاری ہوئی تھی کہ پختونوں کے گھر سے نفرت، گروپ بندی اور خود غرضی دور کردے اور پختونوں کو ایک بھائی بنادے۔ اور آج بھی ہمارا مقصد یہی ہے تو میں اپنے ان

خدائی خدمتگاروں کواتنا کہہ دوں کہ اگر تم بھی ان کی طرح ہوگئے اور گالیا دینا شروع کردیں اور اپنے اصولوں کو چھوڑ دیا تو پھر تم میں اور ان میں کیا فرق ہوگا؟ اور تم کیسے خدا پاک سے امید رکھو گے کہ ان کے مقابلے میں آپ کو کامیابی دیدیں"۔ [9]

ترجمه :- ما دا خبره هر یو خدائي خدمتګار ته بیا بیا کړې ده، اوس د دوي د هدایت دپاره بیا لیکم چې زمونږ خدائي خدمتګاري صبر او ورورولۍ سره جوړه ده. دا تحریک د دې دپاره جوړ شوې وو او جاري شوې وو چې د پښتنو په کور کښې نفرت، ډله بازي او خود غرضي لرې کړي او پښتانهٔ یو ورونه جوړ کړي. نن زمونږ مقصد هم دا دے چې مونږ خپل هغه خدائي خدمتګارانو ته دومره وایو چې که تاسو هم د دوي په شان شئ او کنځل کول شروع کړئ او خپل اصول مو پرېښودهٔ نو بیا په تاسو او هغوي کښې څهٔ فرق وي ؟ او تهٔ څنګه د الله پاک نه امېد ساتې چې د دوي په مقابله کښې به تاسو ته الله پاک کامیابي درکړي.

ملک شېر علي خان له الله تعالیٰ بې شمېره غوره صلاحیتونه ورکړي وو او شاید چې په نن زمانه کښې به ډېرو کمو وګړو کښې د هغوي غوندې د خوا خوږۍ، سړي توب، ورورولۍ او د پښتونولۍ هغه غوره صفات موجود وي. دوي د خپلې سپېڅلې شاعرۍ په ذریعه په پښتنو کښې د نوي نسل د مستقبل دپاره د غلامۍ نه د ازادۍ لویه او عظیمه جذبه رابېداره کړې وه. دغسې شخصیاتو د قربانو بدله او نتیجه بیا وروستو پښتون قوم په خپلو سترګو ولیده څنګه چې دوي په خپل کلام کښې وائي.

کرسۍ خان بهادري د غلامۍ دې شه میراته
ازاد کړه خپل کتاب ښکلے قران د ازادۍ

بې ستره بې پردې د پښتنو شو ټول کورونه
په خپل وطن کښې ګرځو مونږ بربنډ سرتور سرونه [10]

ملک شېر علي خان خدائي خدمتګار تنظیم سره د اخلاص نه ډکه وابستګي لرله او دوي به هر وخت د پښتون قام د روښانه مستقبل په فکر کښې لکه د ملغلرو ښائسته شاعري کوله. ملک شېر علي خان د خدائي خدمتګار په حېث خپل پښتون قام ته د بې اتفاقۍ، حسد، بغض او یو بل سره دشمنۍ او تربګنۍ نه د ځان ساتلو درس ورکوي. دوي د غلامۍ نه خپل قوم او وطن ازادولو دپاره تعلیم یو ډېر مضبوط طاقت او وسله ګڼي ځکه چې تعلیم سره انسان کښې مینه، محبت او اتفاق وده مومي.

تعلیم د ازادۍ ننګیالو ورکړلو هر چاته
حسد او دښمني واړه اوس وغورزوئ شاته [11]

خدائي خدمتګاران دي ټول حامیان د ازادۍ
سینې د دوي سپر دي په مېدان د ازادۍ

تیارې دښمنانو کړې پارټۍ په هر دیار
د خدائي خدمتګارو بندوي هر خوا ته لار [12]

د ملک شېر علي خان د شاعرۍ نه واضحه معلومېږي چې کلام کښې ئې د پښتون قوم او د وطن احساس موجود وۀ. د د دوي د ازادۍ، خوشحالۍ، ځوکالۍ او ترقۍ دپاره ئې پخه اراده کړې وه. د وطن د ازادۍ دپاره به باچا خان د هندوستان ګوټ ګوټ ته دورې کړې دي او ملک شېر علي خان چې د خدائی خدمتګار تنظیم یو ځلنده ستورے وۀ او د خپل ښائسته کلام په ذریعه ئې پښتانۀ د غلامۍ د خوب نه رابېدار کړۀ. دوي د خپلې انقلابي شاعرۍ په ذریعه پښتنو کښې د ازاد ژوند احساس پېدا کړو.

د چا سره بیچلۍ ده ځوک په مسلم لیګ وي شمار
په درې رنګه رنګ شوے دے نشان د ازادۍ

ورک به نشي نوم دا د خدائي خدمتګارانو
نیش کړي دي څو ځل دوي د دښمن لړم مارانو [13]

د ملک شېر علي خان د زړۀ پورې شاعرۍ په وجه په خېشکو کلي کښې دا خدائي خدمتګار تنظیم ډېر په کامیابۍ او مخ په ترقۍ وۀ ـ بل اړخ ته د انګرېز حکومت خفیه اهلکار به خدائي خدمتګارو پسې پټ ګرځېدل او د دې تنظیم د هلو ځلو خبرونه به ئې حکومت ته ورکول ـ حکومت هم په دې سوچ او فکر کښې شو چې په څۀ نه څۀ طریقه دا تحریک کړو ـ د انګرېزانو دا خیال وو چې دا قوم همیشه زمونږ غلام او محتاجه وي ـ هم دغه وجه وه چې ملک شېر علي خان د باچاخان نظریې او دې تنظیم ته غاړه ورکړه او د دوي د لارې ملګرے شو ـ باچا خان چې به کله خویشکو او نورو خواؤشا علاقو ته دوره کوله نو ملک شېر علي خان به دوي ته خپلې سپاسنامې وړاندې کولې چې د هغې تفصیل لاندې بیانېږي ـ

## وړومبۍ سپاسنامه

### په حق د خان فخر افغان عبدالغفار خان

اے د پښتون قام په درد دردمنده
په خیر راغلې همت بلنده
پښتون اعلی شو تمام عالم کښې
دا ټول همت د ے ستا په قدم کښې
ګلاب دې نال کړو سرحد ارم کښې
صوبه سرحد شوه هر ځائے څرګنده
ستاسو تدبیر ته خلق حاجتمنده
په خیر راغلے همت بلنده

تۀ د پښتون قام ښۀ رهنما ئې
غم د افغان کښې مثل گدا ئې
له قوم فروشو هر دم جدا ئې
کړۀ قوم فروش مو دې ټول دل په جرنده
په خير راغلې همت بلنده
دشمن له تاسو هر ځائے ويرېږي
يورپ تدبير ته ستا حېرانېږي
ستا له دهشت نه دشمن رپېږي
گرگان دې بند کړۀ له حرام شخونده
په خير راغلے همت بلنده
وروري دې جوړه کړه اوس خپل قام کښې
بل روح پېدا شو تمام جهان کښې
تاسو کتل جوړ د جمشيد جام کښې
ځکه دې قام کړو خبر له پنده
په خير راغلے همت بلنده
کلے زمونږ نن دې منور شو
په تشريف ستاسو عين اختر شو
دشمن د قام نن ډېر مرور شو
شمشېر ئې پرېوت کوز له مرونده
په خير راغلے همت بلنده
تاسو اوچت کړو د دين نشان
فخر په تا کړي هر مسلمان
تاته حېران دي سياستدانان

رب دې خوشحال کړه زمونږ دلبنده
په خیر راغلے همت بلنده
قوم د افغان ټول تا خبردار کړو
خوابِ غفلت نه تا راببدار کړو
جوړ ترېنه تا ښهٔ خدائي خدمتګار کړو
شېر علي خلاص دے شو له غېر کمنده
په خیر راغلے همت بلنده [14]

ملک شېر علي خان د فخر افغان په حق کښې زبردسته او زړهٔ راښکونکے ښائسته شاعري کړې ده ـ دوي خپل کلام کښې وائي چې باچا خان خو هر وخت د قوم په غم کښې ناقلاره وهٔ او دوي د پښتنو يو ډېر بهادر او غېرتي سالار وهٔ ـ ملک شېر علي خان ليکي چې فخر افغان ټول پښتانهٔ يو موټي کړهٔ او نور ټول سياستدانان دوي ته ګوته په خولهٔ شو ـ د دوي د عظيمې قرباني په وجه د پښتنو نوم ټوله نړۍ کښې روښانه شو ـ د باچا خان د لوړ همت او لوئې جذبې په ذريعه پښتانهٔ د غلامۍ د ذليله ژوند نه ازاد شو او د پښتنو راتلونکي نسل ئې د انګرېز د ظلم نه همېشه دپاره خلاص کړل ـ د ازادۍ په دغه تسلسل کښې ملک شېر علي خان د باچا خان په يوه بله جلسه کښې دوي ته د خپل قلم يوه بله تحفه وړاندې کوي۔

## دوېمه سپاسنامه

## په خدمت د فخر افغان خان عبدالغفار خان

د قام په غم کښې ئې ناقلاره
اے د پښتون قام غيور سالاره
تا چې تيار کړو تمام افغان

حیران شو تاته سیاست دان
د ظلمه تا کړو ظالم ناچاره
اے د پښتون قام غیور سالاره
ښکاره جهان کښې تا پښتون قام کړو
په خوله دشمن دې سخت لګام کړو
ظالم دې ټیټ کړو زمونږ دپاره
اے د پښتون قام غیور سالاره
تا ظلمان کړۀ ټول سرنګون
مړ دې ژوندے کړو تمام پښتون
په همت ستا شول ژوندي دوباره
اے د پښتون قام غیور سالاره

که روح پکښې وو په مړو حساب وو
ډوب غلامۍ کښې په لوئے دریاب وو
کشتۍ د نوح دې کړه زر تیاره
اے د پښتون قام غیور سالاره
وطن دې خلاص کړو له ظالمانو
له فریبیانو له مداریانو
دعا به مونږ کړو تاته بسیاره
اے د پښتون قام غیور سالاره
ازادي تاته نن مبارک شه
د اقبال ستورې ستا په فلک شه
تر جون اتهیائس یو انتظاره

اے د پښتون قام غیور سالاره
که ترې خوشحال وي که خفه کیږي
یاران دوستان که ترې بیلیږي
شېر علي درومي د حق په لاره
اے د پښتون قام غیور سالاره[15]

د ملک شېر علي خان په سپاسنامو کښې د سپرلي هسې رنګینۍ او ښکلا ښکاري ـ د دوي د سپاسنامو دا حسن او ښکلا ځانګړي خصوصیات لري او لکه د ځوارلسمې سپوږمۍ د خدائي خدمتګارو په جلسو ځلنده ښکاري ـ د دوي د سپاسنامو د اهمیت نه دا هم ثابتیږي چې د دوي په کلام کښې ډېره لویه مشاهده او ژور فکر موجود دے ـ معلومه شوه چې د باچا خان په زړۀ کښې کوم درد پښتنو دپاره لرلو نو د هغې څرک د ملک شېر علي خان په سپاسنامو کښې لکه د ځلنده ستوري ښکاري ـ د دوي د خدائي خدمتګارۍ په اړه کلام زړۀ ته په حقیقت کښې کوزیږي ـ ملک شېر علي خان خدائي خدمتګار تنظیم کښې خپله حصه د اخلاص برخه اخستې وه چې هغه ئې ټول اولس ته رابرسېره کړې ده ـ د خپل قام او وطن د ازادۍ دپاره چې دوي کومې هلې ځلې کړې دي هغه ټول اولس ته په ډاګه دي ـ

## دریمه سپاسنامه

## په خدمت د خان صاحب فخر افغان

د قوم له درده ګونه دې زرده
راتلل دې ستاسو مبارک باد وي
د قوم په غم کښې شوې سرګردانه
مئین په قوم ئې فخر افغانه

د هند ازادي دا ستا په سر ده
راتلل دې ستاسو مبارک باد وي
وطن ليلی ده ته ئې مجنون ئې
در په در ګرځې پسې مفتون ئې
د قام په غم کښې الود له ګرده
راتلل دې ستاسو مبارک باد وي
وطن دې خلاص کړو د غېر له پنجې
تشدد نۀ کړې د صبر ګنجې
جنګ ته د غېر دې سينه سپرده
راتلل دې ستاسو مبارک بادوي
د يورپ واړه سياست دان
ستا سياست ته پاتې حېران
دبدبه ستا نن په ټولو بر ده
راتلل دې ستاسو مبارک باد وي
دا همراهان ستا دې ټول اباد وي
قبول دې رب ته ستاسو جهاد وي
نن خوشحالي بيا په بحر و بر ده
راتلل دې ستاسو مبارک باد وي
قوم د غفلت نه دې ټول بېدار کړو
هر يو پښتون دې بيا بيا سنګار کړو
دا مردي ستا ده د وطن مرده
راتلل دې ستاسو مبارک باد وي
خدائے مو کامياب کړه په سياست کښې

اجر دې درکړي رب په قيامت کښې
دغه زاري مو د رب په در ده
راتلل دې ستاسو مبارک باد وي
يو شبر حسن بل شبر علي دے
غلطي دې معاف وي شعر خيالي دے
تحفه د خوېشکو دغه قدر ده
راتلل دې ستاسو مبارک باد وي[16]

لنډه دا چې ملک شبر علي خان د خدائي خدمتګار يو داسې شخصيت وۀ چې د دوي په ذات کښې تکبر، غرور، عياشي، بدمعاشي او نور داسې بد عادتونه نۀ وو بلکې په دوي کښې ډېره عاجزي وه. دوي ته دا معلومه وه چې عدم تشدد يوه داسې لاره ده چې دې سره په انسان کښې صبر، برداشت او استقامت پېدا کېږي. د خدائي خدمتګار په حېث ئې چا سره ظلم او زياتې نۀ کولو، د غريبانو او مظلومانو سره به ئې لاس امداد او همدردي کوله او عام اولس سره به ئې هم هر قسم امداد کولو. دوي همېشه د پښتون قام بې اتفاقي، غريبي، بې علمي او غلامي ژړلے ده او هر وخت به د پښتون قام د روښانه مستقبل دپاره فکرمند وۀ

## حوالې


1. خان، عبدالغفارخان،زماژوند اوجدوجهد،دوېم ځل، پېښور، امن پرنټنګ پرېس، ۲۰۱۲ء، مخ ۲۸۱
2. هما،محمد همايون، ډاکټر، باچا خان عهد ساز شخصيت، پېښور، يونيورسټي بک ايجنسي، جنوري ۲۰۱۳ء، مخ ۶۵
3. وطن يار، اشفاق احمد، د ماسټر عبدالکريم ژوند او فن، پښتو ټانګه ، پېښور پوهنتون، ۲۰۰۸ء، مخ۱۲۳

4. الحديث۴۶۹۰، مشکوة شريف، څلورم جلد، پښتوترجمه، فرهاد محمدغالب ترين، پېښور، زيب ارټ پبلشرز محله جنګي، د چاپ کال نۀ لري، مخ ۴۹
5. عابد، عبدالله جان، لیپي اوښکې، خېشکي، ارزاني ادبي ټولنه، ۱۹۸۶ء، مخ ۱۱
6. خټک، راجولي شاه، ډاکټر، پروفېسر، روهالوجي، پېښور، پښتو اکېډيمي، پېښور يونيورسټي، ۲۰۱۲ء، مخ ۶۰
7. الحديث ۴۶۹۳ (روه احمد وابن ماجه)، مشکوة شريف، څلورم جلد، پښتوترجمه، فرهاد محمد غالب ترين، پېښور، زيب ارټ پبلشرز محله جنګي، د چاپ کال نۀ لري، مخ ۵۰
8. مغموم، يارمحمد، ډاکټر، پروفېسر، د ازادۍ تحريک او پښتو شاعري، پېښور، يونيورسټي بک ايجنسي خېبر بازار، مئ ۲۰۰۷ء، مخ ۱۲۴
9. لاشاری، حیدر، ڈاکٹر، سفیر انسانیت: دوم ایڈیشن، خان عبدالغفار خان، پشاور، باچاخان ریسرچ سنٹر، باچاخان مرکز، جون2012ء، ص230
10. خان، ملک شېر علي، ديوان شېر (ناچاپه)، خېشکي، ۲۱ مئ ۱۹۵۰ء، مخ ۱۸
11. هم دغه کتاب، مخ ۲۴
12. هم دغه کتاب، مخ ۲۴
13. خان، ملک شېر علي، د حقيقت نظمونه (نا چاپه)، محموله: فرهاد محمد غالب ترين، ۲۷ مئ ۱۹۶۸ء، مخ ۴۱
14. هم دغه کتاب، مخ ۳۷
15. خان، ملک شېر علي، بهار چمن (نا چاپه)، محموله: پروفېسر ډاکټر پرويز مهجور، اپريل **۱۹۵۳**ء، مخ ۱۳
16. هم دغه کتاب، مخ ۴۴

# REFERENCES

1. Khan, Abdul Gafar Khan, Zama Jwand aw Jadojehad, Dwem Zal, Pekhawar, Aman Prenting Press, 2012, Makh 281.
2. Huma, Muhammad Hamayun, Doctor, Badshah Khan Ehad Saaz Shakhseeyath, Pekhawar, University Book Agency, January 2013, Makh 65.
3. Wathan Yaar, Ashfaq Ahmad, Da Master Abdul Kareem Jwand aw Fun, Pakhthu Sanga, Pekhawar Pohanthoon, 2008, Makh 123.

4. Alhadees 4690, Meshkath Shareef, Salooram Jild, Pakhtho Tharjuma, Farhad Muhammad Galib thareen, Pekhawar, Zeeb Art Publishers Muhalla Jungi, Da Chaap Kaal Na Lari, Makh 49.
5. Abid. Abdullah jan, Lape woke, Nowkhar, Arzani Kheshgi Adabi Tolana, 1986, Makh 11.
6. Khatak, Rajwali Shah, Doctor, Professor, Rohalogi, Pekhawar, Pakhto Academi, Pekhawar University, 2012, Makh 60.
7. Alhadees, 4693, (Rawaho Ahmad wo Ibni Maja) Meshkath Shareef, Salooram Jild, Pakhtho Tharjuma, Farhad Muhammad Galib thareen, Pekhawar, Zeeb Art Publishers Muhalla Jungi, Da Chaap Kaal Na Lari, Makh 50.
8. Magmoom, Yaar Muhammad, Doctor, Professor, Da Azaday Thahreek Aw Pakhtho Shayere, Pekhawar, University Book Agency, Khyber Bazar, May 2007, Makh 124.
9. Lashare, Haider, Doctor, Safeer - e – Ensaneyath, Doom Adition, Khan Abdul Gafar Khan, Bacha Khan Research Center, Bacha Khan Markaz, June 2012, swad 230.
10. Khan, Malik Sher Ali, Dewan - e - Sher, Mahmoola: Farhad Muhammad Galib Tareen, 21 May 1950, Makh 18.
11. Hum Daga Kitab, Makh 24.
12. Hum Daga Kitab, Makh 24.
13. Khan, Malik Sher Ali, Da Haqeeqath Nazmona, Mahmoola: Farhad Muhammad Galib Tareen, 27 May 1968, Makh 41.
14. Hum Daga Kitab, Makh 37.
15. Khan, Malik Sher Ali, Bahar - e - Chaman, (Na Chapa), Mahmola: Professor Dr. Pervez Mahjoor, April 1953, Makh 13.
16. Hum Daga Kitab, Makh 44.